د افغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حـــــج او اوقافـــــو وزارت
د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی ریاست
دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۹/ صفر المظفر/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۲ / اسد/۱۴۰۵هـ، ش**

# په ودونو او نورو خوشحاليو کې د منکراتو او خلاف شرع رواجونو څخه ځان ساتل

بسم الله الرحمن الرحيم

إن الحمد لله ، نحمده ونستعينه ونستغفره ، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ،ومن يضلل فلا هادي له ، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، وأن محمداً عبده ورسوله ، اللهم صل وسلم عليه وعلى آله وصحبه ومن صار على نهجه وسنته إلى يوم الدين، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى: ( يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله حق تقاته ولا تموتنّ إلا وانتم مسلمون).(۱)

**زما درنو حاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

واده د الله جل جلاله نعمت دی او د ايمان د کاملولو ذريعه ده ، ددې وجې نه رسول الله صلى الله عليه وسلم ځوانانو ته امر کړی دی.( يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَنْ اسْتَطَاعَ منكم الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ ».(۲)

ژباړه: ای د ځوانانو ټوليه! څوک چې ستاسې څخه توان د واده کولو لري، نو واده دې وکړي.

واده په کورني ژوند کې د سـکون او محبت ذريعه ده .الله تعالى فرمايلي دي:(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِـكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ).(۳)

ترجمه: او (ځينې) له نښو د دغه (الله) دا دي چې پيدا کړې يې دي تاسې ته له نفسونو ستاسې ښځې (جوړه) لپاره د دې چې په آرام شئ تاسو د دوی سره (او مطمئن اوسئ) او ګرځولې يې ده په منځ ستاسې (او ښځو) کې دوستي او مهرباني ببشکه په دغه (پيدا کولو د مودت او رحمت په منځ د ازواجو) کې خامخا ډېرې نښې د قدرت دي لپاره د (هغه) قوم چې فکر کوي (د الله په صنع کې).

په هر مسلمان لازم ده چې د واده پر مهال د شريعت ټول اوامر او مقاصد رعايت کړي او په واده کې د خلاف شرع کارونو او رواجونو څخه ځان وساتي.

---

۱- آل عمران:( ۱۰۲)
۲ -متفق عليه
۳-الروم:(۲۱)

مسلمان باید په تمامه معنا مسلمان وي او خپل ټول ژوند په شریعت برابر کړي . الله تعالی فرمایلي دي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَى رَسُولِهِ).(٤)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) ثابت او خالص کړئ تاسې ایمان خپل پر الله او رسول د ده او په هغه کتاب (قرآن) چې ټوټه ټوټه یې نازل کړی دی پر رسول خپل (محمد) باندې.

ایمان تقاضا داده چې باید مونږ د ژوند په هر حالت کې خصوصاً د غم او ښادۍ پر وخت ټول شرعي احکامات رعایت کړو او د خلاف شرع کړنو او اعمالو څخه ځان وساتو . الله جل جلاله مونږ ته امر کړی دی چې (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مبين). (٥)

ترجمه:ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) ننوځئ په اسلام کې ( دهغه له ټولو شرایطو سره ټول او مه کوئ پیروي د قدمونو د شیطان بېشکه دا (شیطان) تاسې لره دښمن دی ښکاره.

الله تعالی وایې چې په اسلام کې په تمامه معنا سره داخل شئ. یعنې اسلامي احکامو ته غاړه کېږدئ او ظاهراً او باطناً اسلامي تعلیمات ومنئ.

مفسرـین د(کافةً) په معنا کې لیکي چې تاسې په اسلام کې داخل شئ یعنې د اسلام ټول شرائع او حکمونه او آداب په ځان عملي کړې او د اسلام ضد منهیاتو او اخلاقو او کردارونو څخه ځانونه وساتئ.

حافظ ابن کثیر ددې مبارک آیت په تفسیر کې لیکی:(یقول الله تعالی آمراً عباده المؤمنین به المصدقین برسوله أن یأخذوا بجمیع عرى الإسلام وشرائعه، والعمل بجمیع أوامره، وترك جمیع زواجره، ما استطاعوا.وقوله: {كَافَّةً} أي اعملوا بجمیع الأعمال ووجوه البر. وهو أنهم أمروا كلهم أن یعملوا بجمیع شعب الإیمان وشرائع الإسلام وهي كثیرة جداً ما استطاعوا منها).(٦)

ژباړه: الله جل جلاله وایې او امر کوي خپلو مؤمنانو  بندګانو ته چې د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) تصدیق یې کړي وي چې عمل وکړي په ټولو اعمالو د اسلام او په شرائعو د اسلام او د اسلام په ټولو اوامرو باندې عمل وکړي او پرېږدي ټول زواجر داسلام څومره چې یې وس ورسیږي.

او د {كَافَّةً} معنا داده چې عمل وکړئ په ټولو کاروونو د نیکیو باندې . هغه داسې چې مؤمنانو ته امر شوی دی ټولو ته چې دوی عمل وکړي په ټولو برخو د ایمان باندې او داسلام په شرائعو باندې چې هغه ډېر زیات دي څومره چې یې وس رسیږي.

د پورتني مبارک آیت په دوهمه برخه کې راځی:(وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّـيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مبين) او تاسـې پیروي مه کوئ د قدمونو د شیطان ؛ ځکه شیطان ستاسې ښکاره دښمن دی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي چې شیطان ستاسې دښمن دی او هغه ته دښمن ووایاست.ځکه شیطان تل کوښښ کوي چې تاسـې په بدۍ او فحشـاوو اخته کړي . (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّـيْطَانِ وَمَنْ يَتَّبِعْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ فَإِنَّهُ يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ).(٧)

---

٤-النساء: (١٣٦)

٥-البقرة:(٢٠٨)

٦- تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (١/ ٣٠٧)

٧-النور:(٢١)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعني ای مؤمنانو) ننوځئ په اسلام کې ( دهغه له ټولو شرایطو سره) ټول او مه کوئ پیروي د قدمونو د شیطان بېشکه دا (شیطان) تاسې لره دښمن دی ښکاره.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: (إِنَّمَا يَأْمُرُكُمْ بِالسُّوءِ وَالْفَحْشَاءِ).(۸)

ترجمه: بېشکه همدغه خبره ده چې حکم کوي شیطان تاسې ته په بد او قبیح کار سره (چې عقلاً او نقلاً منفور وي)

په یو بل مبارک آیت کې راځي.( إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا ).(۹)

ترجمه: بېشکه چې شیطان تاسې ته دښمن دی پس تاسې هم ونیسئ دی (خپل) دښمن

بناءً مونږ ته په کار دي چې خپل غمونه او خوشحالی داسلام سره سم عیار کړو ، په غم او خوشحالیو کې د هغو کارونو څخه ځان وساتو چې شیطاني دي او شیطان ته ددې فرصت ورنکړو چې زمونږ په خوشحالیو کې دخیل شي.

مونږ او تاسې وینو چې زمونږ په خوشحالیو کې لکه کوژده، واده ، د حج څخه راګرځیدل ، د عمرې څخه راګرځیدل د ناوړه رواجونو او منکراتو څخه خالي نه وي چې له یوې خوا عبادت مو په عادت بدلیږي او له بلې خوا د خلاف شرع کارونو مرتکب کیږو چې دا هماغه د شیطان د قدمونو پیروي ده کومه پیروي چې الله تعالی ورڅخه مونږ منع کړي یو.

ځینې ودونه او خینبې پیل یې په خلاف شرع کارونو کیږي، لکه د هلک او انجلۍ د یو بل پیژندلو رسم .په ځینو خلکو کې دا عادت دی چې کله چې څوک د چا د لور لپاره خِطبه (مرکه) وکړي ، نو ددې لپاره چې د هلک انجلۍ خوښیږي او که نه ، نو هلک او انجلۍ دواړه پریږدي چې یو د بل له خوی څخه ښه خبر شي، یو له بل سره کیني ، قصې کوي ، چکرونه وهي او مجلسونه کوي. حال داچې په اسلامي شریعت کې د دوه نامحرمه سړي او نامحرمه ښځې ترمنځ خلوت او مجلسونه حرام کار دی. په حدیث شریف کې راځي. عن ابْنَ عَبَّاسٍ يَقُولُ سَمِعْتُ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- يَخْطُبُ يَقُولُ « لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ».(۱۰)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: هیڅکله دې نه یواځې کیږي سړی له ښځې سره ، مګر دا چې د هغه ښځې سره شرعي محرم وي.

په یو بل روایت کې راځي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:«لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ».(۱۱)

ژباړه: هیڅکله نه یواځې کیږي سړی له ښځې سره ، مګر داچې دریمګړی یې شیطان وي.

---

۸-البقرة:(۱٦۹)

۹-فاطر:(٦)

۱۰- صحيح مسلم (٤ /۱۰٤)

۱۱- سنن الترمذي (٤ /٤٦٥)

**هلک او انجلۍ یو بل ته د ګوتمې په ګوته کول او یو بل ته په لاس د نکریزو لګولو رواج.**

په ځینو خلکو کې بیا دا رواج دی چې د کوژدې په ورځ د یو لړ مراســمو په ترڅ کې هلک انجلۍ ته ګوتمه په ګوته کوي او انلجۍ هلـک تـه ګوتمـه پـه ګوته کوي. یا داچې د خلکو په مخ کې هلک انجلۍ ته د لاس په ورغوي کې نکریزې لګوي او انجلۍ د هلک د لاس په ورغوي کې نکریزې لګوي. دا په داسې حال کې چې یواځې کوژده وشي او د هلک او انجلۍ دواړو نکاح نه وي منعقد شوي.چې دا کار د ډیرو منکراتو څخه ډک دی. یو داچې د هلک او انجلۍ ترمنځ چې شرعي نکاح يې نه وي تړل شوي یو د بل لاس لمس کول ناروا دي .په حدیث شریف کې راځي. عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ:«مَا مَسَّ يَدُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَ امْرَأَةٍ فِي بَيْعَةٍ قَطُّ».(١٢)

ژباړه: دحضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وايي چې نه دی مسه کړی لاس د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاس د ښځې په بیعت کې هیڅکله.

د اجنبي ښځې د لاس د لمس کولو په اړه سخت وعید راغلی دی. په حدیث شریف کې راځي.عن مَعْقِل بْنَ يَسَارٍ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لَا تَحِلُّ لَهُ».(١٣)

ژباړه: د حضرت معقل بن یساررضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل داچې ووهل شي یو له ستاسې څخه په سر کې د اوسپنې په ستنه باندې دا ورته غوره ده ددینه چې لمس کړي لاس دداسې ښځې چې ورته حلاله نه وي.

او که بالفرض ی هلك او انجلۍ دواړو ترمنځ شرعاً نکاح(ایجاب او قبول) هم منعقد شوي وي او ګوتمه د سرو زرو وي ، نو سړو لره د سرو زرو ګوتمه په ګوته کول حرام دي . او که چیرې ګوتمه هم د سرو زرو(طلا) نه وي بیا هم دا د نصاراوو رسم ، رواج او شعار دی او مسلمان ته جائز نه دي چې د غیر مسلمو رواجونه او رسمونه وکړي. دا رواج یواځې رواج نه دی ؛ بلکې دا کار د نصاراوو یو عقیدوي تاریخچه لري. په قدیمو زمانو کې به د نصاراوو واده کړي ګوتمه لومړی د واده کړي د چپ لاس غتې ګوتې سر ته واچوله او وه به يې ویل: (باسم الاب) داد پلار په نوم(نعوذ بالله د الله په نوم)، بیا به هغه ګوتمه د واده کړي داشارې ګوتې سر ته واچوله او وه به يې ویل: (باسم الابن) د زوی په نوم – نعوذبالله- د زوی عیسی علیه السلام په نوم ، بیا به يې هغه ګوتمه د منځنۍ ګوتې سرته واچوله او وه به يې ویل: د( باسم الروح القدس) د روح القدس په نوم(جبرائیل علیه السلام په نوم.بیابه يې آمین وویل او د وروستي ځل لپاره به يې هغه ګوتمه د واده کړي د کچې ګوتې ترڅنګ ګوتې ته واچوله او تل به وه. (١٤)

د کفري قومونو سره ځان مشابه کول لویه ګناه ده. په حدیث شریف کې راځي. عن ابنِ عُمَرَ، قال: قال رسولُ الله - صلَّى الله علیه وسلم -:«مَن تَشَبَّه بقومٍ فهو منهم».(١٥)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمررضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: چاچې ځان مشابه کړ د کوم قوم پورې،نو دی د هغو له جملې څخه دی.

---

١٢- مسند إسحاق بن راهويه (٢ /٥٧٨)

١٣- المعجم الكبير للطبراني (٢٠/ ٢١١).قال ابوبکر الهيثمي: رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح.مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (٤ /٣٧٨٩)

١٤- آداب الزفاف ص:(٢١٢)

١٥- سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٦ /١٤٤)

**په کوژده او ودونو کې د پټاقیو الوزول( آتش بازي).**

تر ټولو خطرناک کار چې خلکو ته يې زيان او ضرر زيات دی ؛ هغه په کوژدو کې او ودونو کې پټاقی (آتش بازي ) الوزول دي. په اوس وخت کې داسې پټاقی مارکيټ ته راغلي دي چې آواز يې د بم او راکټ څخه کم نه دی.

آيا د واده او کوژدې کورنۍ دا فکر نکوي چې زمونږ په ګاونډ کې به مريضان وي، تنکي ماشومان وي، سپين ږيري وي، ذهني مريضان وي ، چې د پټاقيو الوزولو آوازونه وربانديې بد لګيږي ، د هغوی ذهن او دماغو ته زيان رسوي ، ماشومانو ته ضرر رسوي او سراسري زيان رسوونکی کار دی.

په اسلام کې د مسلمان ويرول جواز نلري او مسلمان او ګاونډي ته ضرر رسول حرام او ناوړه کړنه ده. په حديث شريف کې راځي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:«لا يَحِلُّ لمسلم أن يُرَوِّعَ مُسْلِماً».(١٦)

ژباړه: حلال نه دي هيڅ مسلمان ته چې وويروي بل مسلمان .

همدارنګه ګاونډيانو او مريضانو ته ضرر رسول حرام کار دی. په حديث شريف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِ جَارَهُ».(١٧)

ژباړه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې ايمان لري په الله او د آخرت په ورځ ، نو ضرر دې نه رسوي خپل ګاونډي ته.

په يو بل حديث شريف کې راځي. عن جَابِر ، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ».(١٨)

ژباړه: د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې ماد رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې وه يې فرمايل: کامل مسلمان هغه دی چې په امن کې وي نور مسلمانان دده د ژبې (د ضرر ) څخه او د لاس (د ضرر) څخه.

**خلاف شرع زينت کول، په ويښتانو پورې نورويښتان نښلول او په زينت کې تدليس راوستل.**

اوس په خلکو کې دا رواج شوی دی چې په کوژده او واده کې د واده انجلۍ د ښايسته کولو لپاره له کوره بيرون وباسي او د فحشاوو مرکزونو ارائش ګاه ته يې بوزي او هلته د انجلۍ د ښايسته کولو لپاره مختلف ناروا او حرام کارونه ورته ترسره کوي، لکه د وريزو ويښتانو ويستل، د مخ ويښتان ويستل او يا خريل او د شونډو غټه ول او په مخ باندې ورته داسې مواد راښکل چې له تورې ښځې څخه تکه سپينه ښځه جوړه کړي چې دا يو ډول تدليس او دوکه ده.

---

١٦- صحيح مسلم (١ /٦٥)

١٦- سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٧ /٣٥٢)

١٧- صحيح البخاري (٨ /١١)

١٨- صحيح مسلم (١ /٦٥)

که چیرې کوژدن وي باید هلک او د هلک د کورنۍ ښځې باید د ښځې حقیقي ښایست وویني او که چیرې په مخ داسې مواد راکاړي چې سپینول کوي او کله چې مخ او لاسونه وونیځي ،نو د ښځې رنګ بل قسم وی ، نو دا یو ډول دوکه ده د همدې وجې نه اسلامي شریعت هغه کارونه منع کړي دي چې د الله تعالی اصلي خلقت بدلوي لکه د غابښونو تراشل ، د وریزو څخه ویښته ویستل، خالونه لګول،د سر په ویښتو پورې نور ویښته تړل ، چې دا ټول کارونه نن سبا خلک کوي.

په حدیث شریف کې راځي. قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: «لَعَنَ اللَّهُ الوَاشِمَاتِ وَالمُسْتَوْشِمَاتِ، وَالمُتَنَمِّصَاتِ، وَالمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ، المُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ تَعَالَى».(۱۹)

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې لعنت کړی دی الله تعالی په خال وهونکو ښځو باندې او د خال وهلو طلب ګارو ښځو باندې او په (هغو ښځو لعنت ویلی دی) چې د مخ او وریزو څخه ویښته وباسي او په هغو ښځو الله تعالی لعنت ویلی دی، چې د غابښونو ترمنځ جدایې راوستونکي دي د ښایست لپاره، دا هغه ښځې دي چې تغییر راوستونکي دي د الله تعالی په خِلقت کې.

په یو بل مبارک حدیث شریف کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ الوَاصِلَةَ وَالمُسْتَوْصِلَةَ».(۲۰)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: لعنت ویلې الله تعالی په هغه ښځه باندې چې ویښتان په نورو ویښتانو پورې وصلوي او (الله تعالی لعنت ویلې دی) په هغو ښځو چې طلب د ویښتانو د وصلولو کوي.

امام نووي رحمه الله لیکلي دي: په دغو ښځو ځکه لعنت ویل شوی دی، چې په دې کارونو کې دالله تعالی د خِلقت تبدیلول دي او بل داچې دا تزویر او تدلیس دی او دا درواغ هم دي. (۲۱)

**په کوژده او واده کې د ښځو نازک او باریکه لباس اچول.**

په کوژده کې او واده کې ښځې داسې نازکه او باریکه جامې اچوي چې د بدن هره عضوه ورڅخه له ورایه ښکاري چې داسې ښځې په ظاهر کې لباس اچولی وي ، خو په حقیقت کې لوڅې وي.

یا داسې پطلونونه اچوي چې د ډیر چسپ او تنګ وي او د جسم دهرې عضوې حجم په کې ښکاري . دا هغه منکرات دي چې نن سبا اکثره ودونه او خوشحالیو کې ترسره کیږي او د کور نارینه نه په ښځو غیرت کوي او نه په اسلام غیرت کوي.

په حدیث شریف کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا، قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ، وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلَاتٌ مَائِلَاتٌ، رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ، لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ، وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا».(۲۲)

---

۱۹- صحیح البخاري (۷/ ۱٦٥)
۲۰- صحیح البخاري (۷/ ۱٦٥)
۲۱- شرح النووي علی مسلم (۱٤/ ۱۰٦)
۲۲- صحیح مسلم (۳/ ۱٦۸۰)

ژباړه: دوه ډوله خلک د جهنميانو څخه دي چې ما تر اوسه نه دي ليدلي.يو هغه قوم دی چې د هغوی سره په لاسونو کې به قمچينې وي په شان د لکيو د غواګانو او خلک به وربانديې (په ناحقه ) وهي. او بل ځينې ښځې به وي چې اغوستونکې د جامو به وي، خو په حقيقت کې هغوی به لوڅې وي، مائلوونکې به ځانونو ته د نورو خلکو او نورو خلکو ته به هم مائليدونکې وي ، سرونه به يې په شان د بختي اوښ د ګوپې په شان وي (دا ښځې به ) داخل نشي جنت ته او نه به د جنت بوی ، بوی کړي .
امام نووي رحمه الله د (عاريات) په معنا کې وايي:(معناه تلبس ثوبا رقيقا يصف لون بدنها).(٢٣)
ژباړه: د عاريات معنا داده چې داسې نازکه لباس به يې اغوستی وي چې ښکاري به ورڅخه د هغې د بدن رنګ.
دا ډول کارونه په ټولنه کې د فحشاء د خپرولو لپاره زمينه برابروي او په ټولنه کې د کرامت پر ځای بې پتي خپروي. الله تعالی دداسې ښځو په باره کې فرمايلي دي:(إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لا تَعْلَمُونَ).(٢٤)
ترجمه:بېشکه هغه کسان چې خوښوي دغه (خبره) چې خوره شي فاحشه بد نامي په حق د هغو کسانو کې چې ايمان يې راوړی دی شته دغو (کسانو) ته عذاب دردناک په دنيا کې (پ حد د قذف او په بد نامی سره) او په آخرت کې (په اور د دوزخ سره) او الله ښه عالم دی او تاسې نه پوهيږئ (په ضرر د هغې خورې کړې فاحشې).
**په کوژده او واده کې د ښځو د عطرو لګول او د ښځو او سړو ترمنځ اختلاط.**
په ودونو کې او کوژدو کې ښـځې دومره عطر په ځان لګوي چې ټوله فضـاء عطرو نيولي وي چې دا يو ناروا او حرام کار دی. ښځې ته جائز نه دي چې کله د کوره ووځي او عطر ولګوي.
په حديث شريف کې راځي.عَنْ الأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ عَلَى قَوْمٍ لِيَجِدُوا مِنْ رِيحِهَا فَهِيَ زَانِيَةٌ».(٢٥)
ژباړه: داشعري رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هره يوه ښځه چې عطر ولګوي او بيا په يوه ډله خلکو ددې لپاره تيره شي چې هغوی ددې ښځې د عطرو خوشبوي بويه کړي، نو داسې ښځه زنا کاره ده.
همدارنګه ځينې ودونه د ودونو په هوټلونو کې کيږي او د ښځو او سړو ترمنځ په کې داسې اختلاط موجود وي ته به وايې چې دوی ټول په خپلو منځو کې محارم دي.ښـځې او سړي يو بل ته به لاسونه ورکوي او سړي ښځو ته مبارکي ورکوي، يو له بل سره صـحبتونه کوي ، ښـځې له سـړو هيڅ پرده نکوي، د سړو په نامحرمو ښځو سترګې لګيږي، چې داسې د واده او کوژدې مراسم له منکراتو ډک وي او ډيرې فسادونه په کې کيږي. رسول الله صلی الله عليه وسلم په مسجد نبوي کې د بيت المقدس لورې ته د ښځو لپاره مستقله دروازه پريښې وه، ترڅو د سړو او ښځو ترمنځ د عبادت پرمهال هم اختلاط رانشي.
په يو روايت کې راځي. عن ابن عمر، قال: قال رسولُ الله - صلى الله عليه وسلم -:«لو تَرَكْنا هذا البابَ للنِّساء» قال نافع: فلم يدخل منه ابنُ عمر حتَّى مات.(٢٦)
ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: که چيرې مونږ دا دروازه يواځې زنانه وو ته پريږدو (نو دا به ډيره ښه وي ترڅو د ښځو او سړو ترمنځ په تلو راتلو کې اختلاط رامنځ ته نشي) . نافع رحمه الله وايي چې بيا هيڅکله داخل نشو عبدالله بن عمر رضي الله د هغې دروازې څخه ترڅو چې وفات شو.

٢٣- شرح النووي على مسلم (١٤ /١١٠)
٢٤- النور: (١٩)
٢٥- سنن النسائي (٨/ ١٥٣)
٢٦- سنن أبي داود ت الأرنؤوط (١/ ٤٢٧)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پاکه زمانه کې ، رسول الله صلى الله عليه وسلم د ښځو او د سړو ترمنځ د اختلاط په باره کې دومره جدي ؤ چې ښځو ته یې داسې امر وکړ. عن حمزة بن أولى أُسَيد الأنصاريِّ عن أبيه، أنه سَمعَ رسولَ الله -صلى الله عليه وسلم – يقولُ وهو خارجٌ مِن المسجدِ، فاختلطَ الرجالُ مَعَ النساءِ في الطريق، فقالَ رسولُ الله -صلى الله عليه وسلم-للنساءِ: «اسـتَأخِرْنَ، فإنَّه ليسَ لَكُنَّ أن تَحْقُقْنَ الطريقَ، عليكُنَّ بحافَاتِ الطَّريق»قال: فكانت المرأةُ تلصَـقُ بالجِدارِ، حتى إن ثوبَها ليتعلَّق بالجدارِ مِن لصوقِها.(۲۷)

ژباړه: د حمزه بن اولی أُسید انصاري د خپل پلار څخه روایت کوي چې د هغه پلار د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل په داسې حال کې چې د مسجد نبوي څخه بیرون ؤ او د سړو او ښځو ترمنځ په لاره کې اختلاط راغی، نو نبي عليه السلام ښځو ته وفرمایل: وروسته شئ(له سړو څخه) بیشکه ستاسې لپاره جواز نلري چې په تلو کې دلارې منځ کې لاړې شئ،بلکې په تاسې لازم دي چې د لارې په څنډه لاړې شئ. هغه صحابي وايي بیا به یوې ښځې ځان په دیوال پورې چسپولې ؤ آن تردې پورې چې جامې به یې په دیوال پورې ونښتې په دیوال پورې د اتصال د وجې نه.

او د پردو ښځو سره د لاس ورکولو او مصافحې کولو په باره کې هم سخت وعيد راغلی دی. په حدیث شریف کې راځي.

عن مَعْقِل بْنَ يَسَارٍ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لأَنْ يُطْعَنَ فِي رَأْسِ أَحَدِكُمْ بِمِخْيَطٍ مِنْ حَدِيدٍ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمَسَّ امْرَأَةً لَا تَحِلُّ لَهُ».(۲۸)

ژباړه: د حضرت معقل بن یساررضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل داچې ووهل شي یو له ستاسې څخه په سر کې د اوسپنې په ستنه باندې دا ورته غوره ده ددینه چې لمس کړي لاس دداسې ښځې چې ورته حلاله نه وي.

**د کوژدې یا واده په مراسمو کې د ښځو او سړو سندرې ویل او یا رقص کول.**

د واده د منکراتو څخه یو منکر دادی چې د واده په محفل کې ښځې رقص کول دي او یا د سړو رقص کول دي. دا منکر ډېر عام شوی دی او اوسني ځوانان وربادنې مبتلاء دي . اوسني ځوانان په ودونو کې له ښځو سره رقص کوي.

د سړو په حضور کې د ښځو رقص کول شدیدترین منکر کار دی ځکه چې د ښځې په رقص سره سړو ته د ښځو عورتونه ښکاره کیږي او د سړو په حضور کې د ښځو سندرې ویل هم یو ناوړه او منکر عمل دی.

په ودونو کې سندرې ویل او اوریدل که هغه د سړو له خوا وي او یا د ښځو له خوا وي یا د ثبت شویو سندرو اوریدل ناروا او منکر اعمال دي. په حدیث شریف کې راځي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي:« لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ، يَسْتَحِلُّونَ الحِرَ وَالحَرِيرَ، وَالخَمْرَ وَالمَعَازِفَ».(۲۹)

ژباړه: خامخا وي به څه خلک زما په امت کې چې حلال به ګڼي زنا او د وریښمو جامې او شراب او د سندرو آلاتو استعمال . بدرالدین عیني رحمه الله وايې چې (المعازف) سندرو ، د سندرو آلات او وسائلو او سندرغاړو ښځو ته ویل کیږي.(۳۰)

۲۷- سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۷/ ٥٤٣)

۲۸- المعجم الكبير للطبراني (۲۰/ ۲۱۱).قال ابوبکر الهيثمي: رواه الطبراني ورجاله رجال الصحيح.مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (٤ /۳۷۸۹)

۲۹- صحيح البخاري (۷/ ۱۰٦)

۳۰- عمدة القاري شرح صحيح البخاري (۳۱/ ۱٦٦)

حافظ ابن حجر مکي رحمه الله سندرې ويل او اوريدل (۴۰۵) کبيره گناه گرځولي دي. ځکه چې الله تعالی فرمايلي دي:(وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ).(۳۱)

په دې مبارک آيت کې عبدالله بن عباس رضی الله عنه او حسن بصري رحمه الله وايې چې د(لهو الحديث) څخه مراد سندرې دي.

او امام مجاهد رحمه الله په دې آيت کې(وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُمْ بِصَوْتِكَ).(۳۲) (بصوتک) په سندرو او شپيليو وهلو باندې تفسير کړی دی. (۳۳)

امام ابوبکر الآجري رحمه الله په خپل کتاب( تحريم النرد والشطرنج والملاهي) کې مستقل يو باب جوړ کړی دی:(بَابُ ذِكْرِ تَحْرِيمِ اسْتِمَاعِ الْمَزَامِيرِ مِثْلُ الْمَعْزَفَةِ وَالصُّفَّارَةِ وَالصَّنْجِ وَالطَّبْلِ وَالْعُودِ وَالطُّنْبُورِ وَأَشْبَاهِ هَذَا). جَمِيعُ مَا هَذَا مُحَرَّمٌ بُعِثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَحْقِ هَذَا وَبُطْلَانِهِ، لِأَنَّهُ مِنَ الْجَاهِلِيَّةِ فَحَرَّمَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ كُلَّهُ. وَهَذَا كُلُّهُ وَزِيَادَةٌ فَقَدْ كَثُرَ فِي النَّاسِ وَهُوَ مَكْسَبُ الْفُسَّاقِ.( ۳٤)

ژباړه: دا باب دی په بيان د حرمت د اوريدلو د ساز او سرود د آلاتو، لکه رباب وهل ، شپيلۍ غوږول، فلزي آلاتو وهل، طبله وهل او ډول وهل او ددې په څير نور.

علامه الآجري وايې: دا ټول شيان حرام گرځول شوي دي او نبي عليه السلام ددې شيانو د لمنځه وړلو لپاره راليږل شوی ؤ، ځکه چې دا د جاهليت د زمانې شيان دي ،نو الله تعالی ټول حرام کړي دي او دا ټول او ددې څخه علاوه عام شوي وو په خلکو کې او دا د فاسقانو کسب او کار ؤ.

**د واده هلک او انجلۍ دواړه د خلکو په وړاندې يوځای کينول.**

په واده کې يا کوژده کې يو د بې غيرتۍ او بې حيايی منظر دادی چې د واده په مراسمو کې هلک او انجلۍ دواړه د ټولو ميلمنو په مخ کې په لوړ ځای کې يوځای کينول کيږي.

زمونږ په ټولنه کې چې کله افغاني او اسلامي غيرت حاکم ؤ، نو د واده هلک به د سړو په ځای کې ناست ؤ او د واده انجلۍ به د ښځوسره په پرده کې ناسته وه، خو کله چې ځوانانو غربي او نورو غير اسلامي کلتورونه د انترنيتي صفحاتو له لارې وليدل، نو اسلامي غيرت او افغاني کلتور له منځه لاړ او خلک دومره سپين سترگي شول چې اوس د واده په ورځ خلک د واده هلک او دواده انجلۍ دواړه د سړو مجلس ته راولي او د عامو خلکو په مخ کې يې په لوړ ځای په کوچ کې يا چوکيو کې کينوي او ټول خلک ورڅخه خوند اخلي او ميلمانه هلک او انجلۍ ته ورځي او دواړو ته د واده مبارکي وايي. چې دا کمال بې حيايي او کمال بې غيرتي ده چې ښځه د سړو مجلس ته حاضره کړل شي او د هغې څخه په همدې ورځ د حياء زړوکی پورته شي.

---

۳۱-لقمان:(٦)

۳۲-الاسراء:(٦٤)

۳۳- الزواجر عن اقتراف الكبائر (۲/ ۳۳٦)

۳٤- تحريم النرد والشطرنج والملاهي للآجري (ص: ۱۹۳)

ځوک چې په خپله ښځه ، لور انګور باندې غیرت نکوي او د خلکو په وړاندې یې ننداړې ته وړاندې کوي داسې سړي ته په شرعي نصوصو کې منافق او دیوث ویل شوی دی. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْغَيْرَةُ مِنَ الْإِيمَانِ، وَالْبَذَاءُ مِنَ النِّفَاقِ» قَالَ: قُلْتُ: وَمَا الْبَذَاءُ؟ قَالَ: «الَّذِي لَا يَغَارُ».(۳۵)

ترجمه: غیرت د ایمان برخه ده او دیوثي د نفاق برخه ده. ماورته وویل چې بذاء څه ته وایې؟ هغه را ته وویل: هغه شخص ته وایې چې غیرت نه ورځي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي.عن عمار بن یاسر رضي الله عنه عن رسول الله صلی الله علیه و سلم قال:« ثلاثة لا یدخلون الجنة أبدا الدیوث والرجلة من النساء ومدمن الخمر».(۳٦).

ژباړه: د عماربن یاسر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: درې کسان به جنت ته داخل نشي هیڅکله. لومړی دیوث، دوهم هغه سړی چې د ښځو سره ځان مشابه کوي او دریم شراب جوړوونکی.

امام منذري رحمه الله ددیوث په ترجمه کې وایي:( الدیوث: هو الذي یعلم الفاحشة في أهله ویقرهم علیها).(۳۷)

ژباړه: دیوث هغه شخص ته ویل کیږي چې په خپله کورنۍ کې په فحشاء باندې پوهه وي او هغوی ته څه نه وایې.

په اسلام مئینو ښځو لره په کار دي چې په خپل ایمان او عزت باندې غیرت وکړي او غربي کلتور ته نه ووایې.

**وأسأل الله تعالى أن یوفقنی وإیاکم لما یحبه ویرضاه ویعیننا على ذکره وشکره وحسن عبادته إنه سمیع مجیب.**

**وصلى الله على نبینا محمد وعلى آله وصحبه أجمعین.**

۳۵- تعظیم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي (۱/ ٤٦۹)، مسند الشهاب القضاعي (۱ /۱۲۳)

۳٦- الترغیب والترهیب وقال المنذری: رواه الطبراني ورواته لیس فیهم مجروح. (۳/ ۷٦)

۳۷-المرجع السابق